دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

# شهادت

اوونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

PROPERTY OF ACKU

## درس قرآن

بې له شکه چې له الله نه ډاربدونکي خلک به په باغونو او چینو کې وي. د خپل رب ورکړي نعمتونه به په خوښۍ سره اخلي ځکه چې دوی له دېنه په مخ کې ژوند کې نیکوکاران وو. د شپې به ډېره لږه برخه کې ویده کېدل او د شپې په آخرنۍ برخه کې بې بخښنه غوښتله په مالونو کې یې د سوالگرو او بې وسو برخه مالومه وه. (الذاریات ۱۴ – ۱۹ آیتونه)

## درس حدیث

له حضرت معاذ رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې ما له نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه د غوره ایمان په هکله پوښتنه وکړه هغه وفرمایل: غوره ایمان دا دی چې ته نورو خلکو لپاره هغه څه خوښ کړی چې خپل خان ته یې خوښوې او هغوی لپاره هغه څه بد وگڼې چې خپل خان ته یې بد گڼې. (رواه احمد)

شهادت دریېم کال، ۲۴ مه گڼه، پرله پسې ۱۲۴ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د وږی ۱۲ مه د۱۴۳۲ هـ ق د شوال ۹ مه د۲۰۱۱ م د سپتمبر ۷ مه

# سرپرست وزیران به د اعتماد رایو اخیستو لپاره ولسي جرگې ته وروپېژندل شي

کابل، رسنی:
د افغانستان ولسمشر پرېکړه کړې، چې د خپلې کابینې اووه غړي چې له ولسي جرگې څخه یې د اعتماد رایې نه دي ترلاسه کړي، د رایو لپاره جرگې ته معرفي کړي.
د ولسمشر کرزي ویندوي سیامک هروي وویل، چې ولسمشر کرزي د کابینې په غونډه کې پرېکړه وکړه، چې په راتلونکو ورځو کې به د کابینې پاتې غړي ولسي جرگې ته ولېږي.
سره له دې چې د ولسمشر کرزي د حکومت د دوهمې دورې، تقریباً دوه کاله پوره کېږي، د ده د کابینې اوو غړیو لا هم له ولسي جرگې څخه د اعتماد رایه نه ده ترلاسه کړې.
دا اووه تنه مخکینی ولسي جرگې نه وو تایید کړي او تراوسه پورې د سرپرستو وزیرانو په توگه کار کوي.
د ولسمشر کرزي ویندوي ونه ویل چې دقیقاً کله به پاتې وزیران ولسي جرگې ته معرفي شي.
د تېر کال د ولسي جرگې د انتخاباتي درغلیو د لانجو د څېړلو موضوع په وروستیو کې د افغانستان د دولت بېلابېل

پاتې ۴ مخ

## ملاقات رئیس حزب اسلامی افغانستان با مسؤولین جوانان ولایات شمال کشور



برادر مجاهد وزیر اقتصاد کشور و رئیس حزب اسلامی افغانستان در مقر کارش مسؤولین جوانان ولایات شمال کشور را بحضور پذیرفتند.
جلسه بساعت ۲ بجه بعد از ظهر به اشتراک ۲۰ تن از مسؤولین جوانان ولایات مختلف کشور دایر گردید.
نخست از همه رئیس حزب اسلامی افغانستان تشریف آوری جوانان را به کابل خیر مقدم گفته، بعداً در مورد قضایای جاریه در کشور و مسؤولیت خطیر جوانان در قبال آینده این سرزمین به تفصیل صحبت نموده و تاریخچه مبارزات سیاسی جوانان مسلمان افغانستان را با تحمل فداکاریها شهادت طلبی های جوانان در راستای مبارزه با نابسامانیهای اجتماعی و سیاسی تشریح فرموده و سازش، توطئه ها و تهاجمات فرهنگی که از سرزمین های بیگانه وارد کشورها گردید،

بقیه در صفحه ۴

## امریکا باید په افغانستان کې پاتې شي او که نه باید د نورو حملو خطر ومني "کراکر"

کابل، رسنی:
په افغانستان کې د امریکا د متحدو ایالتونو سفیر وایي متحد ایالتونه باید یا د وسله والو طالبانو پرضد جگړې ته دوام ورکړي او یا باید د هغسې حملو خطر په غاړه واخلي چې د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر په یوولسمه نېټه وشوې ځکه چې طالبان بې رحمه دښمنان دي چې لا یې هم له القاعده شبکې سره اړیکې نه دي پرې کړې.
راین کراکر دا خبرداری هم ورکړ چې د امریکا متحد ایالتونه باید په راتلونکو کلونو کې چې امریکایي پوځیان خپل هیواد ته ستنېږي، د افغانستان د امنیتي ځواکونو او حکومت د پیاوړتیا لپاره په ملیاردونو ډالره نورې پیسې هم ولگوي.
ده په امریکا کې د سپتمبر د یوولسمې نېټې د حملو تر لسمې کالیزې مخکې د دوشنبې په ورځ رویټرز خبري اژانس ته په مرکه کې وویل: "څه چې موږ باید وکړو، فکر کوم دا دي چې باید ستراتیژیک زغم وښیو چې د اوږدې جگړې د گټلو لپاره ضروري دی."
ده په عین حال کې وویل چې د دې کار لپاره نورو منابعو او وخت ته اړتیا ده خو هیله لري چې دا ټول به وزغمل شي.
کراکر، چې پخوا په عراق کې د امریکا سفیر و، وویل: په افغانستان کې

پاتې ۴ مخ

## از حدود ۱۰۰ شهرک فقط هشت آن اسناد قانونی دارد "شاروال کابل"

کابل، رسانه ها:
شاروال کابل میگوید که از حدود ۱۰۰شهرک در این شهر؛ فقط هشت آن اسناد قانونی شاروالی را دارد. محمدیونس نواندیش شاروال کابل که به تاریخ ۱۴سنبله در کمیسیون مخابرات و مواصلات مشرانو جرگه سخنرانی مینمود گفت، که شهرک های شاداب ظفر، مسکن، حیدری، طلایی، سلیم کاروان، ستانکزی مینه، میرویس مینه و اریا از جمله شهرک های اند، که با اجازه شاروالی اسناد قانونی دارند.
به گفتهٔ وی، شماری از شهرک های دیگری نیز در شهر کابل وجود دارد، که فقط از وزارت انکشاف شهری اسناد اخذ نموده اما در این مورد به شاروالی مراجعه نه نموده و اسناد آنها تکمیل نگردیده اند.
اما وی از این شهرک ها نام نبرد.
نواندیش میگوید که شاروالی کوشش دارد، تا جهت جلوگیری از ساختن شهرک های خود سرانه در چوکات وزارت داخله ؛پولیس را ایجاد نمایند. همچنان وی میافزاید، که مردم باید بیش از اینکه در کدام شهرک زمین و یا خانه خریداری نمایند؛ نخست باید به شاروالی مراجعه نموده و درمورد اسناد شهرک مربوط معلومات حاصل نماید. به گفتهٔ وی، رسانه ها نیز باید اعلان های

بقیه در صفحه ۴

### رئیس شورای علمای افغانستان

## نیروهای خارجی شهرهای ما را به زندان تبدیل کرده اند

خبرگزاری فارس:
مولوي قیام‌الدین کشاف با انتقاد از عملکرد نیروهای خارجی تأکید کرد این نیروها شهر ما را برای ما زندان ساخته اند و با ایجاد موانع متعدد، چهره شهر را به زندان تبدیل کرده اند.
دومین نشست شورای عالی جوانان افغانستان امروز با حضور حامد کرزی، "عبدالرئوف ابراهیمی" رئیس پارلمان افغانستان، "برهان الدین ربانی" رئیس شورای عالی صلح افغانستان و "قیام الدین کشاف" رئیس شورای علمای افغانستان، بسیاری از شخصیت های افغانستان، نمایندگانی از سفارتخانه‌های خارجی مستقر در کابل و نماینده ویژه سازمان ملل در امور افغانستان از سوی وزارت اطلاعات و فرهنگ این کشور برگزار شد.

بقیه در صفحه ۴

## امریکا ځنگه او څه وخت له افغانستانه وځي؟

دریېم مخ

## داوبو لگولو د پروژو په برخه کې به ۱۴۸،۷ میلیون ډالر ولگول شي

کابل، پژواک:
په راتلونکو شپږو کلونو کې به په افغانستان کې د اوبو لگولو د پروژو په پراختیا او بیارغونه کې ۱۴۸،۷ میلیونه امریکایي ډالر ولگول شي. دغه ځرگندونې د افغانستان د اوبو او برېښنا سرپرست وزیر محمد اسماعیل خان د وږي په ۱۵مه په هېواد کې "د اوبولگولو د پروژو د پراختیا او بیا رغونې" په نوم پروژې د پېل په اړه جوړې شوې غونډې کې وکړې.
سرچینې زیاته کړه، چې د یادو پیسو ۷۰ میلیونه امریکایي ډالر به د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د اوبو لگولو د کانالونو پر جوړولو او بیارغونه، ۳۱،۳ میلیونه به د اوبو د کوچنیو بندونو په ډیزاین او مطالعې، ۸،۲ میلیونه به د هیدرو میترولوجیکي وسایلو په لگولو او ۳۹،۲ میلیونه امریکایي ډالر به د پروژو په اداري برخه او د کارکوونکو د کاري وړتیاوو په لوړولو ولگول شي.
د هغه د معلوماتو له مخې، د دې پروژې ۹۷،۸ میلیونه ډالر لگښت نړیوال بانک ورکوي، ۴۸،۴ میلیون امریکایي ډالر یې د افغانستان د بیارغونې صندوق له خوا ورکول کېږي او ۲،۵ میلیون ډالر یې د افغانستان د حکومت له بودیجې ځانگړي شوي دي.
د یاد وزارت د پروژو د انسجام مشر انجنیر میرویس میرزاد وایي، په یاده پروژه کې ۲۴۱ کوچنۍ پروژې شاملې دي، چې په پلي کولو سره به یې ۳۰۰ زره هکتاره ځمکه له ډاډمنو اوبو برخمنه شي او ۲۳۰ زره کورنۍ به ترې گټه پورته کړي.

## امام علی رحمان! از آنچه می گریزی به آن حتماً گرفتار می شوی

نقیب الله حمید

قانون مسئولیت والدین توسط امام علی رئیس جمهور تاجکستان امضا گردید، به اساس مفاد این قانون جوانان زیر عمر۱۸ از حق رفتن به مساجد محروم شده اند و نمی توانند در مساجد آموزش دینی بینند واین ممنوعیت راه چنان هموار می سازد که جوانان زیر عمر۱۸ به مدارس و مراکز تعلیمی سیکولار به تعلیم بپردازند و از نعمت تعلیمات اسلامی محروم گردند.
در اکثر کشورهای اسلامی به شمول تاجکستان، تعلیمات ابتدایی دینی، چون روی خوانی قرآن کریم، آموزش شیوه ادای نماز، حفظ مسایل نماز، حفظ سوره های قرآن کریم در سن کمتر از ۱۸ فراگرفته می شود و این قانون شومی که توسط رئیس جمهور تاجکستان امضا شده در واقع به منظور بازداشتن نسل جوان و اطفال از آموختن تعلیمات ابتدایی اسلام است و نا آشناسازی آنها با قرآن و نماز و مسایل اسلامی و قدمی است در بردن این نسل به سوی فرهنگ غیر اسلامی و سلب هویت اسلامی در کشور تاجکستان.
قبل از تصویب و امضای این قانون، برخی از سازمان های بین المللی و رهبران مسلمان تاجکستان از رئیس جمهور این کشور خواسته بودند که این قانون را تصویب و امضا نکند، اما او چون بر اسپ جنون و غرور خود سوار بود این همه تقاضاها و خواست ها را نادیده گرفته و این قانون که در حقیقت ننگ تاریخی این کشور خواهد بود، را امضا کرد و عطش دشمنی خود با اسلام را رفع نمود.

بقیه در صفحه دوم

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

# په افغانستان کې د امن د قیام لپاره دریمه لاره

په افغانستان کې د امریکا د دایمي اډو په اړه په زړه پورې بحثونه روان دي، ځینې دا اډې پخپله افغانستان او د سیمې هېوادو په تاوان بولي او ځینې بیا وایي چې د امریکا دایمي اډې په افغانستان کې د ګاونډیو هېوادو د مداخلو د مخنیوی لپاره د افغانانو په ګټه دي. په دې اړه هر څوک پخپل ځای ښه استدلال وړاندې کوي.

هغه خلک چې د امریکا پوځي دایمي اډې د افغانستان او سیمې په تاوان بولي هغوی همدا نظر وړاندې کوي چې په دې صورت کې به په افغانستان کې روانه جګړه پای ته ونه رسېږي ګاونډي او د سیمې نور پیاوړي هېوادونه به دهغوی مخالفینو سره د پخوا په څېر پوځي او سیاسي مرسته جاري وساتي، د افغانستان د امن او ثبات د خرابولو لپاره به هر ډول لاسوهنې کوي او په دې توګه به افغانستان ټول عمر د جګړې او تباهۍ ډګر وي، امریکا او ناټو ځواکونو چې د تېرو یولسو کلو راهیسې کوم مثبت پوځي پرمختګ نه دی کړې او د ګاونډیو هېوادو د مداخلو لاس یې نه دی رالنډ کړې د دایمي اډو د ترلاسه کولو په صورت کې به څنګه دهغوی د لاسوهنو مخه ډب کړي !؟

هغوی استدلال کوي چې لدې وروسته د امریکا او ناټو ځواکونو ازمویل لویه اشتباه ده نه ښيء دا غلطي تکرار شي.

خو هغه خلک چې په افغانستان کې د امریکا اوږد مهاله پوځي اډې د افغانستان په ګټه بولي هغوی استدلال کوي چې که چېرته افغانان امریکا ته دا اډې ورنکړي نو ګاونډي هېوادونه به د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته افغانستان خپل مفتوحه کالوني وګرځوي او په دې توګه به افغانان له خپل استقلال نه محروم شي.

افغانان په یو عجیب حالت کې واقع دي، یو طرف ته ډانګ دی او بل طرف ته پړانګ که امریکا ته اوږد مهاله پوځي اډې نه ورکوي نو د ګاونډیانو تر ګوزار لاندې به راځي او که ورسره د پوځي اډو د ورکولو هوکړه کوي نو بیا به هم د جګړې له اوره نه خلاصېږي او د پخوا په څېر به افغانستان د جګړې تود سنګر وي، د بې ګناه ولسي وګړو د ژوند ډیوې به مړې کېږي او هر لورې به د بم او باروتو له لاسه د خلکو ژوند له خطر سره مخامخ وي.

له دېنه د وتلو یوه دریمه لاره هم شته هغه دا چې ګاونډي او د سیمې پیاوړي هېوادونه په افغانستان کې دنه لاسوهنی پوخ ضمانت ورکړي او دا ژمنه وکړي چې د افغانستان د خپلواکي او زمکني بشپړتیا به پوره پوره خیال ساتي او داسې هېڅ ګام به نه اوچتوي چې د افغانستان استقلال له ګواښ سره مخامخ کوي.

که ګاونډیان واقعاً په افغانستان کې د امریکا د پوځي اډو له شتون څخه ویره لري او د خپلو هېوادو په تاوان یې بولي نو بیا دهغوی په وړاندې لدې پرته بل هېڅ مناسبه لاره نشته چې په افغانستان کې دنه مداخلې قوي سند ورکړي تر څو ددغه کار په ترسره کېدو د ټولو اندېښنې له منځه لاړې شي د امریکا دا تشویش او بهانه به هم ختمه شي چې زموږ له وتلو وروسته افغانستان د ګاونډیانو د لاسوهنې په ترڅ کې یو ځل بیا د ترهګرۍ په مرکز بدلېږي او د افغانانو دا اندېښنه به هم له منځه لاړه شي چې د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته ګاونډیان دهغوی په حریم تېرې کوي.

که ګاونډیان او د سیمې نور پیاوړي هېوادونه له دغې دریمې لارې نه هم ډډه کوي نو بیا افغانان قصداً دېته اړ باسي چې له امریکا سره د دایمي پوځي اډو سند امضا کړي خو ښه به دا وي چې دریمه لاره تعقیب کړی شي.

# امام علی رحمان! از آنچه می گریزی به آن حتماً گرفتار می شوی

(ادامه از صفحه اول)

... تصویب این قانون، واکنش های جهانی را در پی خود داشت، امریکا طرح و تصویب این قانون را خلاف حقوق بشر و خلاف موازین بین المللی خوانده است و نهادهای حقوق بشر نیز انگشت انتقاد را بر طرح و تصویب این قانون گذارده اند.

رئیس جماعت اسلامی هند مولانا سعید جلال الدین عمری، ضمن انتقاد بر این قانون، و تصویب آن توسط پارلمان و امضای رئیس جمهوری تاجکستان، این قانون را غیر عادلانه و ضد دینی و غیرمنطقی خوانده و از مقامات تاجکستان خواستار شده که این قانون را پس گرفته و از تطبیق آن صرف نظر نماید.

اکبر تورجانزاده یکی از رهبران نهضت اسلامی تاجکستان این قانون را مصیبت خوانده و آن را امتحان بزرگی برای ملت تاجکستان میداند و ملت را به اطاعت خالق و پروردگار فراخوانده و فرموده است، خداوند می فرماید: " از من اطاعت و پیروی نمایید" بناء، جوانان باید احکام الهی را پیروی نمایند.

تورجانزاده در ادامه صحبتش برای ملت تاجکستان می گوید: رئیس جمهور فراموش کرده است که قانون خداوند فراتر از قوانین زمینی است و نمی توان مردم را با ترس از جریمه، ازادای احترام به خداوند و اقامه نماز منع کرد. این رهبر مسلمانان ضمن نامه ی برای رئیس جمهور، برای او هشدار داده که این قانون نتایج منفی را بدنبال خواهد داشت.

این دشمنی تازه امام علی رئیس جمهور تاجکستان در برابر دین اسلام نیست، بلکه او زمانی که موج اسلام گرایی و رشد میزان گرایش جوانان به اسلام و تعلیمات دینی را مشاهده کرد، چنان پنداشت که تاجکستان دارد مسیر اسلامیزه شدن را می پیماید، بناء، او به قصد جلوگیری از موج اسلامگرایی و به گمانش برای ریشه کنی بنیادگرایی این قانون را طرح و تصویب کرده است و تصویب این قانون را برای چنین هدف ضروری و مهم توصیف و توجیه می کند.

رییس جمهور تاجکستان امام علی رحمان او برای تحقق این هدف شوم، سال گذشته دانشجویان علوم دینی را از کشورهای بیرون فرا خواند و رفتن جوانان به کشورهای بیرون به قصد آموزش تعلیمات اسلامی را منع قرار داد و رشد گرایش به رعایت حجاب و پوشش اسلامی را مورد انتقاد قرار داده و استفاده از آن را ممنوع ساخت و همچنان از امامان مساجد جدا خواستار شده بود که سخنرانی شان از محدوده ی خطبه ی که دولت برای شان تعین می نماید، فراتر نروند و بدبختانه کمیسیونی را نیز موظف کرده بود برای دستگیری افرادی که دارای ریش هستند. و قبل از این، فرمان منع نامگذاری به نام های عربی اسلامی چون محمد، عبدالله و □ صادر کرده بود.

همه بیانگر این است که این پسمانده تربیت یافته مسکو در صدد محو هویت اسلامی از کشور تاجکستان است و به همین منظور سیاست جبر و فشار را در پیش گرفته است، ارزش های فکری، خواست ها و آرای ملت خود را وقعی نمی گذارد.

پیامدهای این قانون:

در این تردیدی وجود ندارد که طرح و تصویب این قانون، نقطه انفجار خواهد بود و از پیش موج اسلام گرایی را شدت خواهد بخشید و پدیدار است که این محدودیت، بیشتر جوانان تاجک را به مطالعه اسلام و تحقق ارزش های اسلامی باعث خواهد شد و ملت تاجکستان بیشتر آشنا با اسلام و شناخت سیاستمداران سیکولار و اسلام ستیز خود خواهند شد و احتمال فوران احساسات دینی را افزایش خواهد داد، چون بیش از نود در صد نفوس این کشور مسلمان است و به اسلام

عشق می ورزند و در روزگاران اختناق نظام کمونیستی از دین خود دست بردار نشدند و در خانه های زیرزمینی خود به آموزش اسلام پرداختند با وجود تبلیغات زهرآگین و وارونه معرفی کردن اسلام به نام این که افیون ملتهاست و آنگونه که امروز زمزمه می شود که آموزش اسلام همانا تروریست شدن است، اما این ملت دین خود را طفل گونه در آغوش خود محکم گرفتند.

پیامد مهم این قانون، رشد میزان اسلام گرایی خواهد بود و ناکامی این قانون، و خیزش مردم و تحکیم رابطه شان به دین شان، چون قاعده کلی است که محدودیت های جبری به طور حتم حرکت های آزادی خواهی، بلند رفتن روحیه حکومت ستیزی را در پی می داشته باشد.

سیاستمداران سیکولار تاجکستان باری به خیزش های اطراف خود نظر اندازند و از تاریخ جهان امروز و دیروز عبرت اندوزند.

به عنوان مثال، زین العابدین بن علی دیکتاتور ساقط شده تونس برای رفتن مردم مسلمان تونس به مسجد کارت صادر کرده بود وهیچ گروه و تشکلی تحت پوشش اسلام و عناوین اسلامی حق فعالیت نداشت. دختران محجبه مسلمان حق ورود به دانشگاه را نداشتند. موج بیداری اسلامی به نیم قرن حکوکت مستبدانه سکولارها در تونس پایان داد. اولین اقدام دولت انتقالی تونس پس از فرار زین العابدین بن علی رفع تمام محدودیتهای ایجاد شده برای مسلمانان تونس بود. وضعیت مصر را مشاهد نمایند که اختناق سیاسی و دینی در فرجام خود حسنی نامبارک را در پی محاکمه کشاند و ملت با خیزش های خود این دگرگونی عظیم را موجب شدند و دور نیست که چنین تحول به اثر این سیاست های غلط و ضدمردمی حکومت تاجکستان در آنجا نیز به وجود آید و ملت این سیاستمداران ستمگر و خودکامه خود را به محاکمه کشانند.

دور نمی رویم، وضعیت چندسال قبل خود تاجکستان را مطالعه می کنیم.

سکولارهای امروزی تاجکستان چون رئیس جمهور برحال آن، درکشور خود دو تجربه دیگر ی برای پی بردن به بی نتیجه بودن اقدامات اسلام ستیزانه شان پیش روی دارند. یکی تجربه حکومت هفتاد ساله کمونیستهاست. تنها دو دهه از سالهای خفقان و استبداد کمونیستها می گذرد. نگاهی به گذشته درسهای زیادی برای آموختن دارد. کمونیستها از هیچ اقدامی برای زدودن دین به خصوص اسلام از زندگی مسلمانان دریغ نکردند. مردم تاجکستان و دیگر کشورهای مسلمان آسیای مرکزی و قفقاز برای چند نسل تمامی ارتباطاهایشان با جهان اسلام قطع شده بود و حتی نمی توانستند آموزه های اسلامی را به فرزندان خود انتقال بدهند. اما در پی فروپاشی شوروی گرایش به اسلام و ارزشهای اسلامی اولین نکته مورد توجه مردم بود. کمونیستها در هفتاد سال دین زدایی نتوانستند دین را از مردم تاجکستان بگیرند ، آیا سکولارهای حاکم بر تاجکستان چنین توانایی را دارند؟

نکته عبرت آموز دیگر برای سکولارهای تاجکستان در ترکیه اتفاق افتاد . لائیکهای ترکیه نیز طی هشتاد سال اسلام زدایی نتوانستند تغییری در دین و فرهنگ این کشوز اسلامی ایجاد کنند. برعکس اسلام گرایان به عنوان قدرتمندترین نیروی سیاسی به عرصه قدرت وارد شدند. مهمترین عامل پیروزیهای متوالی حزب عدالت و توسعه ترکیه تحت رهبری رجب طیب اردوغان شعارهای اسلام گرایانه او و رفع محدودیتهایی است که لائیکها در هشتاد سال گذشته برای حذف مظاهر و ارزشهای اسلامی در ترکیه ایجاد کردند. اسلام دینی آزاداندیش و عدالت خواه است که آموزه های آن بر فطرت انسان استوار است این آموزه ها راه خود را با تمام محدودیتها به سوی قلبهای حقیقت جو و آزادیخواه باز می، کنند. گرایش به اسلام به خصوص در میان جوانان به سرعت در حال رشد است. آمارهای گرایش به اسلام در کشورهای غربی که در سقوط ارزشهای اخلاقی به انحطاط و نقطه بحران اخلاقی و اجتماعی رسیده اند ، گویای این واقعیت است. قلب جوان پاک است و زودتر حقیقت اسلام را در می یابد.

امام علی رحمان می خواهد با استفاده از موج اسلام ستیزی که آمریکا پس از حوادث یازدهم سپتامبر ۲۰۰۱ تحت پوشش مبارزه با تروریسم به جریان انداخت اقدامات اسلام ستیزانه خود را توجیه کند. غافل از اینکه این سیاست دولت آمریکا با شکست کامل مواجه شده است. دیگر نه تنها در هیچ یک از کشورهای اسلامی که در داخل آمریکا و کشورهای دوست ومتحد آمریکا نیز کسی شعارهای مبارزه با تروریسم این دولت را باور نمی کند. برای افکار عمومی جهان آشکار شده است که امریکا با سیاستهای اسلام ستیزانه و تحت پوشش مبارزه با تروریسم درصدد گسترش سلطه خود بر جهان پس از حوادث یازدهم سپتامبر ۲۰۰۱ بوده است. اما دولت جنگ افروز امریکا در یک دهه گذشته نه تنها .به اهداف سلطه طلبانه خود در جهان نرسید بلکه اکنون بنابر نظرسنجی ها ، منفورترین کشور در دنیاست. دولتهای سکولار، مستبد و تحت حمایت امریکا در منطقه خاورمیانه که آمریکا با اتکای به آنها به دنبال پیشبرد سیاستهای سلطه طلبانه خود بوده ، یا ساقط شده اند و یا در لبه پرتگاه سقوط قرار دارند.

سرنوشت تاجکستان این چنین خواهد شد ان شاء الله تعالی. زمستان می رود سیاهی به زغال خواهد ماند، این مستبد می رود ولی اسلام در این سرزمین جاودان خواهد ماند، چون این سرزمین زادگاه بزرگ ترین شخصیت های علمی است و منبع رشد و پیشرفت اسلام بود و درفرجام نیز مهد تربیت جوانان مسلمان خواهد بود. و با این پف کردن ها هیچگاه چراغ اسلام از این سرزمین خاموش نخواهد شد.

# امریکا څنګه او څه وخت له افغانستانه وځي؟

## ډېرې خبرې مې په زړه وې

عبدالله "کامه وال"

په افغانستان کې د امریکا د جګړې یا په بله وینا د امریکا د نظامي او سیاسي موجودیت لس کاله تېر شول، خو لا هم امریکا په افغانستان کې ښکېله ده او لا یې هم دا ښکېلتیا معلومه نه ده، چې تر څه وخته پورې به دوام پیدا کوي؟! که له یوې خو له افغانستانه د امریکایانو د وتلو خبرې راپورته کېږي او هره ورځ په مطبوعاتو او رسنیو کې وربانډې ګرم بحثونه روان وي، خو له بلې خوا په افغانستان کې د امریکایانو د پاتې کېدو پر سر هم بحثونه جریان لري، چې دې ډول حالت خلکو ته تشویشونه پیدا کړي، ځکه نه دا خبره په سمه توګه معلومېږي، چې امریکایان به له افغانستانه وځي او نه هم دا خبره په سمه توګه واضح ده، چې ایا دوی به په افغانستان کې پاتې کېږي او که پاتې کېږي، نو تر کله به وي؟ ځکه دوی کله یوه نېټه د خپلو وتلو لپاره ټاکي او کله بله، کله یو څه وایي او کله بل څه، یانې په عمومي توګه د غربیانو په دریځ کې کومه څرګنده نښه یا هدف نه لیدل کېږي. ظاهراً دا خبرې چې امریکایان له افغانستانه وځي، د لیزبون تر غونډې وروسته راګرمې شوې دي، خو د اصلي نېټې پر سر تر اوسه څو څو وارې جنجالونه او د نظر اختلافونه راپورته شوي دي، پخپله د امریکا حکومت هم په دې موضوع کې قوي موقف نه لري او نه هم په دې تړاو یو قوي تصمیم او هوډ لري، ځکه سنا یې یو څه وایي، حکومت یې بله څه وایي او سي ای اې یې بل څه وایي او ټول سره په یوه نظر نه دي. دا چې اصلي قضیه څه ده، دا معلومه نه ده، خو ظاهراً له افغانستانه د وتلو او پښو سپکولو خبرې کېږي. د همدې ضد او نقیضو خبرو په لړ کې د امریکا د ولسمشر بارک اوباما له لوري له افغانستانه د ایستل کېدونکو ځواکونو د شمېر په اړه هم ضدو نقیض تصمیمونه او پرېکړې کېږي او دا هم لا معلومه نه ده، چې د امریکا او ناټو ټول عسکر به کله او په څومره وخت کې له افغانستانه وځي! په همدې حال کې ځینې جګپوړي امریکایي چارواکي په دې نظر دي او وایي چې په سیمه کې د القاعدې اصلي شبکه نوره له منځه تللې او دا مسئله دلیل کېدای شي چې امریکا له افغانستانه د خپلو ځواکونو ایستلو ته زور ورکړي. امریکایي مقامات دا هم وایي چې د امریکا د استخباراتي ادارو له لوري په سیمه کې د تروریستي تنظیمونو دېرش غړي مهم موجود وو چې د هغو له منځه شل تنه تېر کال وژل شوي او د دوی په وینا په پاتې لسو تنو کې نیمایي یې نور تهدید نه پېښوي. دا چارواکي وایي چې دا اطمینان یې په هغو اسنادو کې موندلی چې په ایبټ اباد کې د اسامه بن لادن له کوره یې ترلاسه کړي دي. دوی دا هم وایي چې د بن لادن د کور په اسنادو کې هم جوتېږي چې د القاعده شبکه څومره سره پاشل شوې او زړه ماتې شوې ده. په اسنادو کې ښکاري چې د بن لادن قومندانان د مرګ له وېرې د تروریستي حملو جرئت نه شي کولی. د تروریستي ضد مبارزې بریالیتوب د امریکایانو لپاره دا مانا لري چې باید نور امریکایي پوځیان له سیمې ووځي، خو په افغانستان کې دېره امریکایي پوځیان بیا وایي چې باید د ۲۰۱۲ کال تر منې پورې له افغانستانه ځواکونه ونه ایستل شي، ځکه چې افغان طالبان اوس تر سخت فشار لاندې دي او که دا فشار په اوسني شکل دوام وکړي دا ډله به د افغانستان له حکومت سره پخلاینې ته وهڅول شي. دوی په عین حال کې وېره لري چې د زیات شمېر ځواکونو د ایستلو په صورت کې به هغه بریاوې له لاسه ورکړي چې د تېر کال په وروستیو کې یې د افغانستان په جنوبي ولایتونو کې په برخه شوي دي، خو له افغانستانه د ځواکونو د ژر او زیات شمېر ایستلو پلوي امریکایي چارواکي وایي چې د امریکا اصلي هدف القاعده وه او د دې لپاره چې دا تروریستي شبکه له پښو ولوېږي اوباما افغانستان ته دېرش زره اضافي سرتېري ولېږل، نو اوس چې القاعده تقریباً له منځه تللې پکار ده چې اوباما د افغانستان له حکومت سره مرسته وکړي چې په خپله له طالبانو خپل ښارونه او ولسوالي وساتي. خو ځینې کتونکي وایي چې ښایي اوباما بیا هم د تېر ځل په شان د خپلو پوځي قومندانانو ومني، د دوی په نظر هغه نېټه چې قومندانانو له افغانستانه د زیات شمېر ځواکونو د ایستلو لپاره ورښوولې ده، د امریکا د ولسمشرۍ د انتخاباتو وخت ته نژدې ده، نو که امریکایي پوځیان په داسې حال کې چې انتخاباتي کمپاین روان وي له افغانستانه ایستل کېږي، ښایي د انتخاباتو پر پایلو بې اغېزې نه وي. خو امریکایي قومندانانو ویلي چې دوی د ۲۰۱۲ کال په منې کې له افغانستانه د زیات شمېر ځواکونو د ایستلو لپاره په دې خاطر نه دی غوره کړی چې دا موده انتخاباتو ته نژدې ده. دا چې دوی به کله له افغانستانه وځي، دا مهمه او ملغقه مسئله ده، ځکه دوی سره له دې چې په دې عرصه کې ضدونقیض خبرې کېږي، که له یوې خوا امریکا په افغانستان کې د خپلې ماتې خوبونه ویني، خو له بلې خوا بیا د دایمي اډو خیال یې هم په سر کې مبشت دی او د دې هدف لپاره اوسمهال دوی ته د سولې پروسه هم یوه ستره ننګونه بلل کېدای شي، ځکه طالبان هم د قضیې هغه اړخ بلل کېدای شي، چې اوس باید امریکا ورسره خبرو ته کېني او د هغوی له حضور او مشورې پرته د دوی هره کړنلاره به له ستونزو ډکه وي، نو له همدې امله دوی په دې وروستیو کې د سولې په مذاکراتو او خبرو باندې هم خپل فشارونه زیات کړي او په دې سره غواړي هدف ته ځانونه نژدې کړي. په دغه هېواد کې د دایمي پوځي اډو د ترلاسه کولو تر مهاله به دوی له هر ډول امکاناتو او لارو چارو کار واخلي، ځکه دوی په همدې نیت افغانستان ته راغلي او تر هغو چې خپل دغه هدف ترلاسه نه کړي، نو فکر نه کوم چې دوی دې وتلو ته زړه ښه کړي.

# د امریکا او انګلستان استخبارات له القاعدې سره د اړیکو د ټینګولو په لټه کې

محمد خلیل

د انګلستان د استخباراتي ادارې پخوانۍ مشره بیرولس الیزا وایي چې غربي نړۍ له القاعدې سره د خبرو اترو لپاره لاره لټوي، هغې دغه څرګندونې تېره ورځ په لندن کې یوې غونډې ته کړي او ویلي یې دي چې امریکا او انګلستان د استخباراتي ادارو له دې هڅو موخه دا ده چې له القاعدې سره د سولې د تړون لپاره کومې پرېکړې ته ورسېږي.

که څه هم له وړاندېنه ډېرو شنونکو غربي نړۍ ته مشوره ورکړې وه چې له هغوی سره د القاعدې د دښمنۍ اصلي جرړې او لاملونه وڅېړي او هغه څرک دې ومومي چې له امریکا او دهغوی له ائتلافیانو سره یې د دښمنۍ خطرناکې پولې ته رسولې دي، که چېرته له همدا اوس نه ددې مخه ډب نه کړی شي نو په یقیني توګه ویلې شو چې نړۍ به د آتش فشان ښه خپله کړي او انسانیت به پکې وریت پریت شي.

د تېرو یولسو کلو راهیسې د القاعدې او غربي نړۍ ترمنځ جګړو دا ثابته کړه چې دواړه لورې پر یو بل د بشپړې غلبې د ترلاسه کولو استعداد نه لري، مالي او ځاني ضیاع خو ډېره کېږي مګر د جګړې نقشه د هېڅا په ګټه نه تمامېږي، القاعده هم د ورځو په تېرېدو خپل جنګي تاکتیکونه بدلوي او خپلو دښمنانو ته نوي نوي خنډونه راولاړوي، ناټو ځواکونو د القاعدې د تاکتیکونو د خنثی کولو پلان لا نه وي سرته رسولی چې هغی بل تاکتیک په کار اچولی وي.

القاعده په ځنګله کې پټ دهغه خامار په څېر دی چې پخپل دښمن ناڅاپي حمله کوي او بېرته سوړې ته دننه کېږي، د القاعدې جنګیالیو پېژندل ځکه ګران کار دی چې هغوی په ښارونو او کلي قریو کې عام ولسي وګړو په څېر ژوند تېروي ان تر دې چې د پوځ او پولیسو په صفونو کې هم دننه شوي دي، دا به هم مبالغه نه وي چې د القاعدې ډېر داسې غړي هم شته چې امریکایي استخبارات او ولایتي پي آر ټي ګانې هم تېرویستلي او له هغوی نه معاشونه اخلي.

اوس په دې خبره غور پکار ده چې آخر له القاعدې سره هغه کوم قوت او حکمت عملي دی چې د نړۍ په ګڼو هېوادو کې ډېر ځوانان دېته چمتو کوي چې دهغوی په صف کې داخل شي او پر وینا یې خپل سرونه نذرانه کړي؟ ددغې پوښتنې ځواب څرګند دی هغه دا چې غربي نړۍ پخپل لاس دېته لاره هواره کړې چې د نړۍ د ډېرو وګړو کرکه او نفرت راوپاروي او دهغوی په خلاف مالي او ځاني جهاد کولو ته وهڅوي. د مثال په توګه، غربي نړۍ په ځانګړې ډول امریکا ټول عمر دهغه ظالم او سفاک اسرائیل ملاتړ کړی چې په منځني ختیځ کې د فلسطینیانو په وینو لاسونه یې سره دي، په پوځي، اقتصادي، سیاسي او سفارتي میدان کې دهغوی کلکه مرسته کوي په پوځي ډګر کې چې تراوسه اسرائیل د حساب وړ کوم پرمختګ کړې دی ددې ترشا هم د امریکا او دهغې د انډیوالانو لاس دی، په منځني ختیځ کې چې اسرائیل د تېرو شپېتو کلو راهیسې د بدمعاشۍ او انسان وژنې کوم میدان ګرم کړی دی او هره ورځ بې ګناه فلسطیني وګړي وژني امریکا او انډیوالان یې بشپړ ملاتړ کوي، هره میاشت او هر کال د فلسطینیانو خاوره نیسي او ښارونه پکې آبادوي د منځني ختیځ هېوادونه په بشپړ ډول له اسرائیلو نه په ویره کې دي او خپل مستقبل په خطر کې ویني، هغوی دا انګېري چې یهودان که نن نه وي نو سبا به ضرور دهغوی پر خاوره هم تېرې کوي او په دې توګه به د منځني ختیځ ټوله ساحه پخپل ولکه کې راولي، امریکا او دهغې انډیوالانو نه یوازې دا چې تراوسه پورې د اسرائیلو ددغه ناروا کړنې د مخنیوي لپاره کوم ګام نه دی اوچت کړی بلکې لا یې مرسته کړې ده.

بله دا چې امریکا او دهغې ملګري له لومړۍ ورځې نه د مسلمانانو په خلاف د دښمنۍ لاره پرمخ بیایي، په اسلامي هېوادو کې د غیر مسلمو لږکیو لپاره د جلا هېوادونو د جوړولو لمنه وهي، له هغوی سره مالي، سیاسي، سفارتي او بین المللي مرسته کوي چې تر اوسه د سوډان او انډونیشیا په شمول په ګڼو هېوادو کې یې دا کارونه ترسره کړي دي مګر ددې برعکس هر چېرته چې مسلمانو لږکیو د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو کوښښ کړی دهغوی مخه نیولې او د ترهګرو په نامه یې یاد کړیدي، په ځانګړې ډول د امریکا او دهغې غربي انډیوالانو په خلاف د مسلمانانو په زړونو کې هله کرکه زیاته شوه چې امریکا په عراق یرغل وکړ او په لکونو بې ګناه انسانان یې ووژل.

په افغانستان کې هم امریکایي او ناټو ځواکونو د ترهګرۍ تر عنوان لاندې د بې ګناه ولسي وګړو په وژلو چې د زانګو ماشومان یې هم نه دي بخښلي د نړۍ د مسلمانانو په زړونو کې دا قوي تأثر پیدا کړی چې هغوی ته هر مسلمان ترهګر ښکاري او د ترهګرۍ تر عنوان لاندې په اسلامي هېوادو خپله ګېډه اچول غواړي.

هغه افغانان چې مخکې د امریکایانو په راتګ خوشال ښکاریدل او فکر یې کاو چې دهغوی د آبادي او بیارغاونې لپاره به کارونه کوي، دهغوی د بنسټیزو کړاوونو د له منځه وړلو لپاره به جدي ګامونه اوچتوي خو له هغه وروسته تر ښه زړه تورن شول چې له خپلو ګټو پرته یې افغانانو لپاره هېڅ مثبت کارونه ونه کړل، څنګه چې له وړاندې نه د بل چا محتاج وو نن هم هغوی ته د ګدایي کچکول نیولې، لنډه دا چې امریکا او ملګري یې د خپلو عاقبت نااندیشو پالیسیو له کبله ځانته د افغانانو دښمنۍ زیاته کړه همدا لامل دی چې د وخت په تېرېدو دهغوی په خلاف د جنګ صحنې پراخې شوې او پخپل لاس یې ځانته قبرونه وکنستل.

اوس نو له دې بو ګنوونکې حالت نه د وتلو لاره دا نه ده چې جنګ ته ادامه ورکړی شي ځکه چې په دې صورت کې د ځاني او مالي تاوان کچه خو لوړېږي مګر کومه مثبته نتیجه نه ترلاسه کېږي، که چېرته امریکا او ناټو ځواکونه د پیاوړې اقتصاد او پیاوړې تازه نفس پوځ له لارې د تېرو یوولسو کلو راهیسې د خپل هدف په ترلاسه کولو بریالي نه شول او له زغم نه وتلي له ځاني او مالي کړاوونو سره مخامخ شول نو په یو داسې حالت کې چې اقتصاد یې له رکود سره مخامخ دی او ولس یې له جنګ نه خلاصون غواړي څنګه شونې کیدلې شي چې دغه بې نتیجې جګړه نوره هم وغځوي او په دې توګه نړۍ د جګړې په لمبو کې وریت کړي؟ نو ځکه د عقل او منطق غوښتنه داده چې غربي نړۍ له القاعدې سره د خبرو اترو لاره پرمخ بوځي د اختلاف هغه سر ټکي پیدا کړي چې له امله یې نړۍ د اور په بټۍ بدله شوې، که واقعاً دواړه لورې له اخلاص او صداقت نه کار واخلي او د جګړې بنیادي لاملونه له منځه یوسي نو له څه شک پرته د نړۍ ټول انسانان د امن او خوشالۍ په فضاء کې د ژوند تېرولو ستر نعمت ترلاسه کولې شي.

# افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

## ناټو ولې صبر لال چې له ګوانتانامو څخه خلاص شوی و، وواژه؟

*نړیوالو ورځپاڼو له ګوانتانامو څخه د خوشې شوي طالب د وژل کېدو او د یو بل طالب چې د ملا ملنګ په نامه مشهور دی په اړه مطالب خپاره کړي دي.*

**نیویارک تایمز:**

نیویارک تایمز ورځپاڼه لیکي، د صبر لال کیسه له ضد ونقیضو روایاتو څخه ډکه ده.

هغه وروسته له دې چې پنځه کاله یې د ګوانتنمو په زندان کې تیر کړي، دوه کاله مخکې افغانستان ته تللی او له خپلو دوه میرمنو او نهو اولادونو سره یې نوی ژوند پیل کړی و.

هغه د جلال اباد ښار په نسبتا ښې سیمې کې ښه ژوند درلود. خو وروسته له دې چې په دې وروستو کې شکونه وربانديې ډېر شول نو ایتلافي ځواکونو د شپې د یوې حملې په ترڅ کې هغه په خپل کور وواژه.

استخباراتي معلومات وایي، صبر لال په خپل شخصي لګښت د کونړ په پیچ دره کې امریکایي ضد عملیات تمویل کول.

د هغه قتل په افغانستان کې د سولې د عالي شورا غړي، چې له مخالفینو سره د سولې د خبرو اترو هڅې کوي په قار کړل.

د دې شورا غړي وایي، ایتلافي ځواکونو تر هغه وروسته چې تیره میاشت صبر لال بندي کړ تر وژلو د مخه یې ژمنه کړې وه، چې نور به هغه نه ځوروي. خو د ناټو مقامات ټینګار کوي، چې صبرلال یې نه و نیولی.

د سولې د شوار یوه غړي حاجي دین محمد نیویارک تایمز ته ویلي، دې کار په رښتیا هم چې د خلکو په منځ کې د ملي شورا اعتبار ته زیان ورساوه.

**نېشن:**

بله خوا په پاکستان کې نېشن خپرونه لیکي، د طالبانو یو مهم مشر ملا محمد صالح چې د ملا ملنګ په نوم مشهور و، په سرې توګه له اسلام اباد او کوټې څخه کتنه کړې ده.

خپرونه زیاتوي، ملا ملنګ یو تجربه لرونکي جګړه مار و، هغه د پخواني شوروي لښکرو په وړاندې جګړه کړې د پاکستان له استخباراتي اداري ای. اېس. ای سره اړیکه لري او همدا شان په واشنګټن کې یې هم غړ اوریدل کیږي.

نیشن خپرونه لیکي، امریکایي ځواکونو په سر کې په بریتانیا کې د افغان ځواکونو د روزنې پروګرام منلی و، خو د تیرې میاشتې په وروستې اوونی کې د امریکا په مشرۍ د ناټو تړون خپل نظر بدل کړ او په کامله توګه د افغان پوځ روزنه د متحد ایالاتو په انحصار کې راغله او دې مسالې ته په پاملرنې سره چې په دې وروستیو کې ملا ملنګ له اسلام اباد څخه کتنه کوي کیدای شي ډیرې معناوي ولري.

# آیساف علل فرار سربازان اردو را کمبود معاش و اعزام شان به ساحات ناامن خواند

کابل، رسانه ها:

آیساف، علل فرار سربازان اردوی ملی را کمبود معاش و اعزام شان به ساحات ناامن خوانده، اما آنرا قابل نگرانی نمی داند.

کارستین جکوبسن Carsten Jacobson سخنگوی نظامی آیساف میگوید که ماهانه ۷۵۰۰ تن در صفوف اردوی ملی افغانستان جذب میشوند که از این جمله ۷۰ درصد آنها در صفوف اردو باقی می مانند.

وی که در نشست خبری (۱۴سنبله) صحبت میکرد، افزود که سربازان اردوی ملی، بیشتر در تابستان، بنام رخصتی و بخاطر جمع آوری حاصلات گندم، فرار می نمایند.

جکوبسن علاوه کرد که شکایات رسیده نشان میدهد که این سربازان به علت کمبود معاش و اعزام شان به ساحات ناامن، فرار را بر قرار ترجیح میدهند. سخنگوی نظامی آیساف میگوید: "با وجودیکه شماری از سربازان از صفوف اردوی ملی فرار مي نمايند، اما تعداد باقی مانده، اکثریت را نشان میدهد و فرار این سربازان، قابل نگرانی نیست."

به گفتهٔ وی با گذشت هر روز تعداد اردوی ملی، از لحاظ کیفیت و کمیت بیشتر میشود و فرار شماری از این سربازان تاثیر منفی بجا نخواهد گذاشت. اما در احصائیه تازهٔ که از سوی ناتو در اختیار روزنامه واشنگتن پست قرار گرفته، نشان میدهد که در شش ماه اول سال جاری میلادی، از هر هفت سرباز اردوی ملی افغانستان یک تن آنها فرار نموده اند.

بر اساس این ارقام، از ماه جنوری تا آخر ماه جون سال روان، بیش از ۲۴ هزار سرباز از صفوف اردوی ملی فرار کرده اند که نسبت به شش ماه سال گذشته دو برابر افزایش را نشان میدهد.

درین مدت تعداد سربازان اردوی ملی به بیش از ۱۳۰ هزار میرسید. در این احصائیه آمده است که تنها در ماه جون، پنجهزار سرباز فرار نموده اند که از جملهٔ ۱۷۰ هزار سرباز اردوی ملي، رقم ۲۴ هزار نفری، از صد در صد سوم حصه آنرا تشکیل میدهد.

اما تورن جنرال افضل امان رییس اوپراسیون ستردرستیز قوای مسلح میگوید که فرار سربازان اردوی ملی انگشت شمار بوده و قابل نگرانی نیست. او ادعا میکند که از ایجاد اردوی ملی بیش از هشت سال میگذرد، اما فرار مسلحانهٔ سربازان، از ۲۰ تن هم تجاوز نمی کند. وی گفت: "شماری از سربازان اردوی ملی بنام رخصتی به خانه میروند و بنا بر یک سلسله تهدیدات و مشکلات دوباره به وظایف شان حاضر نمي شوند."

اما رییس اوپراسیون ستردرستیز قوای مسلح میگوید: سربازانی که با استفاده از رخصتی به وظایف شان حاضر نمي شوند، به حدی نیست که کیفیت و کمیت محاربوی اردوی ملی به سطح پائین دیده شود.

### سرپرست وزیران به د اعتماد ...

اور ګانونه د یوبل مقابل ته درولي و او لا هم دا لانجه یومخ ختمه شوې نه ده.

خو سره له دې چې له نوي ولسي جرګې سره ظاهراً د ولسمشر کرزي د حکومت اړیکې تر مخکینی هم ترینګلي ښکاري سیامک هروي وایي؛ چې د انتخاباتو د خپلواک کمیسون له لوري ولسي جرګې ته د نهو نورو استازو په ورمعرفي کولو سره دا لانجه پای ته رسېدلې ده.

د افغانستان ولسمشر حامد کرزي د کابینې په غونډه کې وویل، چې د انتخاباتو د خپلواک کمیسون له خوا ملي شورا د نهو تنو پاتې غړیو په معرفي کېدو سره انتخاباتي جنجالونه پای ته رسول شوي او دا دوسیه د تل لپاره وتړل شوه او حکومت ولسي جرګې ته د اعتماد رایې د ترلاسه کولو لپاره د کابینې د پاتې غړیو د معرفي کولو په تکل کې دي او په راتلونکو ورځو کې به دا کسان معرفي شي.

ولسمشر وویل، چې نور انتخاباتي جنجالونه د تل لپاره پای ته رسېدلي ګڼل کېږي، باید هیڅوک په دې برخه کې نور جنجال ونه کړي ځکه چې د انتخاباتو خپلواک کمیسون په دې باب خپله وروستی پرېکړه کړې ده.

ده د دې پوښتنې په ځواب کې چې ایا نوې څېرې به ولسي جرګې ته د وزیرانو په توګه معرفي شي او که د اوسنیو سرپرست وزیرانو لپاره به له ولسي جرګې څخه د اعتماد رایه واخیستل شي، وویل چې په دې اړه لا څه نه شي ویلي خو ژر به د معرفي کېدونکو وزیرانو نومونه رسنیو ته ورکړای شي.

### ملاقات رئیس حزب اسلامی...

متوجه ساختند. و آنها را به فراگیری دانش مسلکی و سیاسی تشویق نمودند و حکایات چندی از دوران مبارزات خویش را با ایشان در میان گذاشتند.

(داوریار) یکتن از مسؤولین جوان ولایات شمال کشور به نماینده گی از سائرین از پذیرایی گرم وزیر اقتصاد و رئیس حزب اسلامی اظهار سپاس و قدردانی نموده، گفتند: ما جوانان با درک مسؤولیت های خطیر با درنظر داشت اوضاع و احوال سیاسی، اجتماعی و اقتصادی کشور تصمیم گرفتیم تا تحت رهنمایی و رهبری سالم حزب اسلامی که همانا خدمت به مردم وطن و ملت مسلمان ما میباشد به مبارزه و پیکار خویش ادامه بدهیم، و در این راستا از هیچ نوع قربانی دریغ نخواهیم ورزید.

جلسه با پیشنهاد جوانان در مورد نشریهٔ بنام )جوانان مسلمان حزب اسلامی( به جناب محترم وزیر اقتصاد کشور و اظهار آماده گی ایشان در این مورد و ضمن آن تدویر سیمینارها و ورکشاپها در مورد تنویر اذهان جوانان و ارتقای ظرفیت سیاسی کسب مهارت های مسلکی و عقیده تی آنها از طرف ایشان مورد پذیرش قرار داده و تصمیم برآن شد تا در هفته آینده جوانان حزب اسلامی سیمینار را غرض بحث روی موضوعات مبرم و اساسی پیرامون وضع سیاسی و موقف جوانان در این رابطه تدویر نمایند.

بالاخره جلسه بساعت ۴ بعد از ظهر پایان پذیرفت.

(گزارشگر مدیریت جوانان حزب اسلامی)

### از حدود ۱۰۰شهرک فقط هشت ...

شهرک های را که اسناد قانونی در دست ندارند منشتر نه نمایند.

شاروال به گونه مثال گفت: "شب گذشته اعلان یک شهرک را بنام فیصل از تلویزیون شنیدم، که با این نام کدام شهرک با شاروالی وجود ندارد."

احمدجاوید رووف رئیس کمیسون مواصلات و مخابرات مشرانو جرگه گفت، برای تعدادی از افرادی از طرف شاروالی بر یک قطعه زمین امر ساختن شهرک داده میشود، اما این افراد به زمین بیش از حدشان شهرک میسازند که باید شاروالی جلو آنها را بگیرد.

شاروال کابل نیز این اظهارات را رد نه نموده و گفت، که برای جلوگیری از این کار؛ اقدامات جدی را آغاز نموده است.

شاروال در نشست دیروزی همچنان گفت، که شب گذشته با رئیس جمهور کرزی نیز دراین مورد گفتگو نموده است.

وی میگوید، از کرزی خواست است، تا وزارت امور داخله در مورد جلو گیری زمین های غصب شده با شاروالی کمک نماید.

شاروال در مورد اندازه زمین غصب شده چیزی نگفت، اما به گفته رئیس کمیسون یادشده مشرانو جرگه، هشتاد فیصد زمین های شهر کابل؛ ازسوی زورمندان غصب گردیده است.

### امریکا باید په افغانستان کې ...

باید داسې ثبات راشي چې په نهایت کې یې دا تضمین شي چې د سپتمبر د یوولسمې په شان بله پېښه نه کېږي.

ده طالبان سخت ساري وبلل او ویې ویل چې باید له هغوی سره سخته جګړه وشي ځکه چې که د ماموریت تر بشپړېدو مخکې پرېکړه وکړي چې ماموریت بشپړ شوی، طالبان به بیا راشي.

ده وویل چې نظرپوښتنې ښیي چې افغانان د طالبانو ملاتړ نه کوي.

کراکر د لوېدیځوالو د تېروتنو په اړه وویل چې دوی په ځانګړي ډول یې ځایه مصرفونه کړي چې اوس یې دا تېروتنه اصلاح کړي.

"فکر کوم موږ ټولو او نړیوالې ټولنې په افغانستان کې د خپلو منابعو په لګولو کې تېروتنه کړې. ډېر خلي مو د افغانستان له حکومت سره له سلامشورې پرته او بې له دې چې پر خپلو مصارفو سمه څارنه وکړو، لګښتونه کړي. خو فکر کوم چې اوس مو سم لوري غوره کړی."

د کانګریس د تحقیقاتي اداري په وینا په افغانستان کې تر شپاړس سوه زیات امریکایي پوځیان وژل شوي او تراوسه پورې امریکا څلورنیم سوه ملیارد ډالره لګولي دي.

په کابل کې د امریکا سفیر وایي طالبان باید دومره کمزوري کړای شي چې هغو شرطونو ته غاړه کښېږدي چې دوی او افغان شریکانو یې ورته په ګډه ایښي دي.

کراکر دا نظر رد کړ چې که له افغانستان څخه په لومړیو کلونو کې عراق ته پام نه وای اوښتی او زیات شمېر ځواکونه دې هیواد ته لېږل شوي وای اوس به د افغانستان حالات داسې نه ول.

ده وویل که په ۲۰۰۲، یا ۲۰۰۳ او یا هم په ۲۰۰۴ کې چې په افغانستان کې تاوتریخوالي نه ول یا ډېر کم ول، زیات شمېر پوځیان دې هیواد ته لېږل شوي وای افغانان به ورته د یرغلګرو یا اشغالګرو ځواکونو په سترګه کتلي وو، او حالات به تر اوس هم بدتره شوي وو.

### نیروهای خارجی شهرهای ما...

رئیس جمهور افغانستان در سخنانی که در این مراسم ایراد کرد، جوانان افغانستان را از با استعدادترین جوانان دنیا دانست و افزود: اگر استفاده صحیحی ازاین استعدادها شود، افغانستان جزء کشورهای قدرتمند جهان خواهد شد.

کرزی در بررسی علت عقب ماندگی افغانستان، به تلاش و پشتکار کشورهای منطقه از جمله هند با جمعیت یک میلیارد و ۲۰۰ میلیون نفر جمعیت که زمانی تحت اسارت خارجی‌های بود، اشاره کرد.

وی رمز و راز موفقیت را تحصیل علم بیان کرد و اظهار داشت: تا زمانی که افغانستان روی پای خود نایستد، مهندسان این کشور پل مورد نیاز خود را نسازند، داکتران آن بیماران افغان را درمان نکنند و تا زمانی که افغانستان از آبله دست خود نان خود را تأمین نکند، من شما را به چیزی جز تحصیل علم تشویق نمی کنم.

رئیس جمهور افغانستان خاطر نشان کرد: شما را نه به بازی‌های سیاسی و نه به غیر آن تشویق می کنم بلکه هر پسر و دختر افغان را به درس خواندن ترغیب می کنم و در این زمینه بهترین امکانات را در داخل و خارج افغانستان برای شما مهیا می کنم.

کرزی در مورد مهاجرت جوانان افغانستان به کشورهای دیگر و عدم بازگشت دیپلمات‌های افغان پس از اتمام دوره ماموریت به افغانستان گفت: این‌ها نشان می‌دهند که جوانان افغانستان هنوز به فردای خود مطمئن نیستند و این فردای مطمئن را فقط جوانان افغان می‌توانند بسازند.

وزیر ارشاد و فرهنگ افغانستان که از دیگر سخنرانان این مجلس بود، اظهار داشت: جوانان افغان در میان موجی از تهاجم فرهنگی و آزمونگاه تاریخی قرار دارند.

وی خدمت برای نسل جوان افغان را یکی از مسئولیت‌های عمده این وزارت در شرایط کنونی دانست و افزود: سرنوشت آینده افغانستان را می‌توان با تقدیم افراد صالح و آگاه به ارزش‌های اسلامی رقم زد.

مولوی قیام الدین کشاف رئیس شورای علمای افغانستان درسخنانی با بیان این که تأمین صلح، امنیت، بازسازی و ثبات در این کشور، به جز سعی و کوشش خود افغان‌ها از طریق دیگری ممکن نیست، گفت: پس از گذشت ۱۰ سال، نیروهای خارجی هنوز به وعده‌های خود عمل نکرده اند.

رئیس شورای علمای افغانستان تأکید کرد: نیروهای خارجی با شعار تأمین امنیت و بازسازی در افغانستان حضور یافتند اما با گذشت ۱۰ سال از حضور نیروهای خارجی ناامنی‌ها به صورت گسترده در افغانستان افزایش یافته و این نا امنی‌ها حتی به کابل پایتخت نیز رسیده است.

وی با انتقاد از عملکرد نیروهای خارجی، افزود: این نیروها شهر ما را برای ما زندان ساخته اند و با ایجاد موانع متعدد، چهره شهر را به زندان مبدل ساخته اند.

کشاف خطاب به نیروهای خارجی تصریح کرد: مشخص نیست که نیروهای خارجی برای کمک به مردم افغانستان آمده اند یا افغانستان را وسیله‌ی برای اهداف خود قرار داده اند.

رئیس پارلمان افغانستان و رئیس شورای عالی صلح افغانستان نیز از دیگر سخنرانان این مراسم بودند.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت (اونیزه)
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي خانګه
د امتیاز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۷۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مینه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com